مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

پوهندوی آصف بهاند
۲۰۱۸/۰۹/۲۹

# د بېکسیار د ډک زړه څپې

## او

## «لکه خوب هسې وختونه»

## (د عبدالمالک بېکسیار د ژوند او شاعرۍ لنډ جاج)

## شپږمه برخه




## د سوچه او کلیوالي لغاتو کارول:

د بیکسیار د دې کمال تر ځنګ چې په شعر کې کلیوالي ژبه او اصطلاحات کاروي ، بل کمال يې دا هم دی چې دی تر اوسه په فکر او عمل کې هم کلیوال پاتې دی، د ډیر بې تکلفه ساده کلیوالي ژوند په چوکاټ کې ګوزاره کوي او په عملي ډول په اروپا کې، په ډنمارک کې کلیوال پاتې شوی دی. خوند خو يې په دې کې دی چې ځینې خلک له ښاري متمدن اروپایي ژوند نه ستړي او ستونزو سره يې لاس ګریوان دي، خو بیکسیار له خپلو کلیوالي مناسباتو او کلیوالي ژوند نه خوند اخلي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د همدې اروپايي ژوند په دايره کې، په خپل شعر کې داسې کليوالي لغات او اصطلاحات کاري چې د ډيرو شاعرانو لا ورته پام هم نه دی. لکه:

ـ «ورخاړی» (يو ډول سابه دي)،

ـ «ښوباړی» (د کاليو مينځلو دبی)،

ـ «شامتوره» (يو ډول مرغی ده)،

ـ «شودياره» (اړول شوی پټی)،

کله، کله داسې کيږي چې په يوه ژبه کې ځينې داسې لغات وي چې ډير سوچه وي، خو د نه کارولو په وجه، د هېريدو تر بريده رسيږي او بيکسيار په خپلو شعرونو کې د داسې لغاتو بيلګې په شعوري ډول خوندي کړې دي، چې غوره بيلګه يې همدا «ورخاړی» دی. لاندې بيتونو ته پام وکړئ:

مــوره شــدل د شــاړو غــاړو خلــک
زمــوږ رومــان ګـل د ورخاړي مـدام

لــوني پــر خــلــکو بــيــکــسيــاره ګلان
اشنا پر موږ مات کړي ښوباړی مدام

(لکه خوب هغه وختونه، دريم مخ)

... چيرې ما منډه چې وهله کله
د شامـتـورو تـولي نـالوزول...

(لکه خوب هغه وختونه، ۱۴ ام مخ)

د ده د دواړو نوو چاپ شوو کتابونو نومونه زما له پاره نوي او شاعرانه دی:

ـ لکه خوب هغه وختونه،

ـ د ښپو چې زړه راډک شي.

بيکسيار په دې ښه پوهيږي چې په شعر کې د کلماتو بيا، بيا تکرار او بيا، بيا کارول، کلمات سولوي او پيکه کوي يې د لوستونکو تر نظر ښه نه ايسې، چې د نقد په دايره کې دې ډول شاعرۍ ته کليشه اي شاعري ويل کيږي.
بيکسيار هڅه کوي چې د خپلې ژبې د غنا په موخه خپل فکر د داسې کلماتو په قالب کې وړاندې کړي چې هم ډيره سلنه پښتو وي او هم د عامو خلکو په ژبه کې عملاً کاريږي لکه ورخاړی، ده بيا په شعر کې راوستل او د هغه په کارولو سره يو شعري انځور وړاندې کول په خپله يو کمال او هنر دی:

مــوره شــدل د شــاړو غــاړو خلــک
زمــوږ رومــان ګـل د ورخاړي مـدام

بيکسيار د مطالعې ښه قوي بګروند لري او شعري تجربه خو يې څکه غني ده چې دا اوس يې زما مخې ته اومه او اتمه شعري ټولګې پرتې دي ومې لوستې او د مقالې له پاره مې يادداشتونه هم ورنه واخستل.
بيکسيار د شعر د يو ښه تعريف پر اساس (شعر يوه نا پيژندلې هيواد ته سفر دی.)
په خپل شعر کې رينښتيا داسې څه بيانوي چې لوستونکی په رينښتيا يو نا پيژندلې سيمې يا هيواد ته بيايي:

ور لاندې سر نيسم، د غم کانې پرې پاس اچوم
لـکــه مـاشـوم پــه رنـګــانــو پــسې لاس اچوم


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

دا ځل که راغی اشنا ږدمه په مړوند ورته سر
توري تمبې به دروازو ته د وسواس اچوم

اوبه د رحم د اشنا په زړه چې رانغلې هيڅ
ماشوم هوس ته به مجبور قيضه د اس اچوم

کډې مې بار دي ځم روان يمه د وير له کلي
د غم کيسې ته کلکه غوږه د والناس اچوم

نور بيکسياره هسې تشې قافيې نه پييم
نور شاعرۍ ته مې لړ مالګه د احساس اچوم

(لکه خوب هغه وختونه، ۵۲ ام مخ)

## د شعر په پای کې دوه ځلې د تخلص کارول:

د بيکسيار بل بدعت دا دی چې په ځينو غزلونو کې يې خپل تخلص دوه ځلې کارولی دی، يعنې د غزل د پای په دوو بيتونو کې يې په مکرر ډول خپل تخلص راوستی دی. دغه يې دوې بيلګې دي:
د يو غزل د پای دوه بيتونه:

بيکسيار زوړ شو د يورپ پر ځمکه
چې د وطن غر شي افغان غوندې شي

بيکسيار هر څو که جانانه اوس زوړ
ستا د راتلو چې واوري ځوان غوندې شي

(لکه خوب هغه وختونه، ۳۰ ام مخ)

د بل غزل د پای دوه بيتونه:

زه بيکسيار يار ته غوړ، غوړ ناست لکه تل چې به ناست
په زنګنو مې ايښی سر دی شپيلی نه غږوي

چا وې چې نه شو بيکسيار په پرديسۍ کې خراب
کچکول يې شته، سر يې ببر دی شپيلی نه غږوي

(لکه خوب هغه وختونه، ۳۸ ام مخ)

## يو خپيز غزل:

د بيکسيار بل بدعت د «يو ځپيز غزل» تر سرليک لاندې څو جلا، جلا هجاوې دي چې زه يې د لومړي ځل له پاره ګورم. دا نه غزل دی، نه ازاد شعر، خو ده د «يو ځپيز غزل» نوم ورکړی دی.
د ۲۰۱۱ م کال د مۍ پر ۲۱ مه نيټه، د سويډن په مالمو کې مې له خپل استاد پوهاند ډوکتور مجاور احمد زيار سره ليده کاته وشول او ما ته يې په هغه وخت کې خپل يو نوی چاپ شوی کتاب (پښتو بدلميچ، پښتو شعر ځنګه جوړيږي؟) را ډالی کړ. د بيکسيار پر «يو ځپيز غزل» باندې د پوهېدو او د بيلګو د ليدو په تمه مې د زيار صاحب کتاب را واخيست، په ځير سره مې وکوت، له ۵۲ ځپيز نه نيولې بيا تر دوه ځپيز پورې د شعرونو بيلګې په کې خوندي شوې وې، خو يو ځپيزه بيلګه مې و نه موندله.
(زيار، پوهاند ډوکتور م . ا، پښتو بدلميچ، پښتو شعر ځنګه جوړيږي؟، دانش خپرندويه ټولنه، ۲۰۱۰ م کال، ۶۹ ـ ۷۵ مخونه)


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

دا د بیکسیار د یو څپیز غزل بشپړ متن دی:

زه
ته

ته
زه

ته
بنه

زه
نه

نو
څه؟

خو
که

ستا
زړه

مي
په

نا
مه

(لکه خوب هغه وختونه، ۴۱ ـ ۴۲ مخونه)

د شپږمي برخي پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزی بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ